(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مثال لري دُنیا کښې نه نظیر
دَ هرچا نه ښهٔ خبر دَ هریو درد ے
یو صفت لري صفاتو کښې خبیر
په معمار سره یادیږي دَ جهان
مصوّر دے بهترین دَ هر تصویر
خیر او شر ورسره لاس کښې په جهان دي
ټول لیکلے ئې زمونږه دے تقدیر
هر یو کار صرف په کُن سره ئې کیږي
مدبر دے دَ جهان دَ هر تدبیر
رنګ په رنګ ئې مخلوقات دي پیدا کړي
پیدا کړے ئې منکر سره نکیر
هر نبي ئې رالېږلے خبر دَ پاره
که بشیر دے دَ جهان او که نذیر
اے احمدعلي! محتاج ئې ټول مخلوق دے
که مالدار دے دَ جهان او که فقیر

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تورو تیارو کښې مصطفیٰ ﷺ سحر دے
تل په دُنیا کښې دَ هر چا سحر دے
دَ هدایت د دې جهان رڼا ده
زمونږ نبي ﷺ رڼا رڼا سحر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library


دَ هر چا نه دے بهتر
محمد خير البشر ﷺ
دين دَ امن ئي اسلام
بهترين ئي دے كلام
احمد وائي مختصر
محمد خير البشر ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لویه خدایه! ستا نه ژوند دَ سکون غواړم
محبت سره تړلے ژوندون غواړم
تعلق درنه زۀ غواړم دَ نبی ﷺ
هر شيطان نه په دُنيا کښي بيلتون غواړم
دَ بدعت تورو تيرو نه ما کړے لرے
په سنت سره خپل ژوند کښي بدلون غواړم
چي دَ ميني محبت اخلاص نه ډك وى
هر ساعت دغه ښائسته ښۀ مضمون غواړم
اتباع دَ محمد ﷺ زما نصيب کړے
په وجود کښي زۀ دننه بيرون غواړم
غواړم ستا نه زۀ احمد دَ رسول ﷺ مينه
دغه مينه زۀ په شان دَ مجنون غواړم

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه لاره زۀ روان دَ مـــحـــمـــد عــربـــی ﷺ ـــم
پــــه ديــن کښــي ئــي فــلاح د دوجهــان دَ پــاره ده
پــه ديــن کښــي ئــي فلاح دَ هــرانســان دَ پــاره ده
تـــابـــع زۀ دَ قـــران دَ مـــحـــمـــد عـــربـــی ﷺ ـــم
پــــه لاره زۀ روان دَ مـــحـــمـــد عــربـــی ﷺ ـــم
رڼـــا دَ هـــرصـــحـــرا او بيـــابـــان دَ پـــاره ده
رڼـــا دَ دې جهـــان بـــره آســـمـــان دَ پـــاره ده
قـــربـــان شـــمـــه قـــربـــان دَ مـحـمـد عـربـی ﷺ ـم
پــــه لاره زۀ روان دَ مـــحـــمـــد عــربـــی ﷺ ـــم
هـــر څـــومـــره پـــه عـــمـــل کـــه يم کـمـزورے دَ جهـان
احـــمـــد عـــلـــی پـــه جـــار کـــوی دلـتـــه دا بيـــان
مـلـګـــرے پـــه جهـــان دَ مـحـمـد عـربـی ﷺ ـم
پــــه لاره زۀ روان دَ مـــحـــمـــد عــربـــی ﷺ ـــم

## نعتِ مصطفٰی ﷺ

دَ نبـــی ﷺ پـــه مـحـبـت، رَبّـــه! شـــکـــر هـر ساعـت
دَ نبـــی ﷺ پـــه نُـور سـنـت، رَبّـه! شـکـر هـر ساعـت
شـــکـــر شـــکـــر سـتـا دَ ذات، دَ دُنيـا پـــه دې حـالات
دَ نبـــی ﷺ پـــه هـــر صـفـت، رَبّـه! شـکـر هـر ساعـت
شـــکـــر شـــکـــر خدايـــه ستـا، پـه دُنيـا کښي پـه هرخوا
دَ دُنيـــا پـــه هـــر نـعـمـت، رَبّـــه! شـکـر هـر ساعـت

(c) ketabton.com: The Digital Library


آګــاه ددي خبــري نــه دے دغــه تول عــرب
مـقـام اُوچـت ورکـړے پـه دُنیـا کښـي زمونـږ ربَ
آګــاه دَ مــرتبــي نــه دے عــالـم دَ مـدیـنـي
هــردر دے عــالیشــانــه محتــرم دَ مـدیـنـي
هـردر دے عـالیشـانــه مـدیـنـه کښـي پـه نظر
احـمـدعـلـی خبـره دلتـه تـا کـړه مـختـصـر
قسـم دے دا بیــان دے تـول مُحـکـم دَ مدیـنـي
هــردر دے عــالیشــانــه محتــرم دَ مـدیـنـي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څـوك چــي مـدحــه دَ نبـی خیـر الانـام ﷺ کـړي
ځــان لائــق بــه دَ عــزت او احتــرام کــړي
شتــه پــه مـدحـه کښـي دَ پـاك نبــی ﷺ ثـواب
کـه څـوك يـاد رسـول اللـه ﷺ سحـر ماښام کـړي
مــدحــه کــړے دَ رسـول ﷺ تـولـو اصـحـابـوؓ
دغــه مـدحــه پـه تـاریخ کښـي هـر امـا م کـړي
اولیـــاء او صــالــحــانـو مــدحــه کـــړے
هــر عــاشـق کــار پــه دُنیـا دغــه مـدام کـړي
دغــه مــدحــه تـول عــرب او عــجـم کـــړے
هرښیار کس دے چي څوك خپور دغه پیغام کړي
د دُنیـــا دَ انســـانـــو ځـــان خبـــر کـــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چې د رسول مينه په زړه کښې کړه
دا ده په دُنيا کښې حقيقي رڼا

تا چې د سنت لاره اختيار کړله
دا ده قدرمنده د مکي رڼا

تا چې شريعت د نبي ﷺ ومنه
دا ده ښائسته د عربي ﷺ رڼا

تا چې احکامات د دين منلي دي
دا ده حقيقي د مدني رڼا

تا چې هر ولي د دين منلے دے
دا ده د نبي د صحابي ؓ رڼا

هر يو صحابي ؓ د دين يو ستورے دے
دا چې ښکاري دلته مذهبي رڼا

هر ځائے شته د پاك رسول ﷺ د يار رڼا
دغه د عمر ؓ عثمان ؓ علي ؓ رڼا

ما احمد قرآن سنت منلے دے
دا ده حقيقي د امتي رڼا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے صورت د مصطفیٰ ﷺ د څوارلسمي سپوږمي
رڼا رڼا رڼا ده په هر خوا د څوارسمي سپوږمي
نشته دے نشته په کښې عيب دا ده بې عيبه تو له

